د افغانستان اسلامي امارت


د پوهنې وزارت

د کیفیت د تضمین معینیت

د څارنې او ارزونې ریاست

د راپور ورکولو او همغږۍ آمریت

# د پوهنې وزارت د عملیاتي پلان د پرمختګ او لاسته راوړلو لنډ راپور




راپور ورکولو دوره: حوت ۱۴۰۴-ثور ۱۴۰۵

## د مطالبو لړلیک

د پوهنې وزارت په هکله لنډ معلومات ........................................ ۱
سریزه ........................................ ۲
د برنامو او عنصرونو پر بنسټ د کړنو او لاسته راوړنو د پرمختګ لنډیز ........................................ ۳
مالي راپور ........................................ ۲۴
د بودیجې تخصیص او لګښت ........................................ ۲۴

## د پوهنې وزارت په هکله لنډ معلومات

**بسم الله الرحمن الرحیم**

الحمدلله رب العلمین و الصلوة و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین. امابعد:

د پوهنې وزارت د افغانستان د اسلامي امارت یو له مهمو ادارو څخه شمېرل کیږي چې د اسلامي شریعت او په هېواد کې د نافذه قوانینو سره سم د هېواد د ښوونیز نظام د عمومي پالیسیو د طرحې او پلي کولو او د ښوونې او روزنې مسولیت پرغاړه لري. د اجباري اساسي او ثانوي زده کړو، تر څوارلسم ټولګي پورې د اسلامي زده کړو او د سواد زده کړو لپاره د ښوونې او روزنې زمینې برابرول، د اسلام د مقدس دین د احکامو، ملي کلتور او علمي اصولو پر بنسټ د یو واحد ښوونیز نصاب چمتوکول، تالیف او پلي کول، په هېواد کې د بې سوادۍ د له منځه وړلو لپاره د آغېزمنو پروګرامونو طرحه او پلي کول، د کوچیانو په شمول د ټولنې د ټولو وګړو له پاره د ښوونې او روزنې زمینې برابرول، د غوره ښوونیزو خدمتونو د وړاندې کولو په موخه، د ښوونکو او اداري کارکوونکو مسلکي ظرفیت لوړونه او همدارنګه په هېواد کې د دولتي او خصوصي ښوونیزو مرکزونو او ادارو پراختیا، څارنه او ملاتړ د دې وزارت له اصلي دندو څخه شمېرل کېږي.

د پوهنې وزارت د منظور شوي تشکیل له مخې، د وزارت د مقام ترڅنګ لاندې ریاستونو سربیره چې د دفتر لوی ریاست، د داخلي پلټنې ریاست، د پلان او پالیسی ریاست، د دعوت او ارشاد ریاست، د بهرنیو اړیکو او تمویلونکو ریاست او د ولایتي چارو د انسجام ریاست پکې شامل دي، د څلورو پروګرامونو/معینیتونو لرونکی دی چې عبارت دي له: د ښوونې او روزنې معینیت، د اسلامي زده کړو معینیت، د تضمین کیفیت معینیت او مالي او اداري معینیت څخه. دا وزارت د منظور شوي تشکیل سره سم ۳۰ مرکزي ریاستونه، ۳۴ د پوهنې ولایتي ریاستونه او د کابل ښار د پوهنې ریاست درلودونکی دی.

په ټولیزه توګه، د پوهنې وزارت په خپل تشکیل کې (۳۳۲،۳۱۱) بستونه لري، چې له دې جملې څخه (۲۷٦،۳۴٦) د ښوونکو بستونه، (۱۴،۲۱۴) د اداري کارکوونکو بستونه او (۴۱،۷۵۱)د خدماتي/اجیر کارکوونکو اووم او اتم بستونه دي.

د څارنې او ارزونې ریاست، د تضمین کیفیت معینیت یو له مهمو او کلیدي ریاستونو څخه دی، چې د پوهنې وزارت د عملیاتي پلانونو، پروګرامونو او پروژو د غوره او آغېزمن تطبیق او پرمختګ څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو مسؤلیت پرغاړه لري. د څارنې او ارزونې ریاست د راپور ورکولو آمریت د اړونده پالیسی او کړنلارې سره سم، دنده لري ترڅو د پوهنې وزارت د عملیاتي پلانونو، پروګرامونو او پروژو د تطبیق او پرمختګ راپورونه د مرکزي او ولایتي ریاستونو څخه راټول، مرور، توحید او چمتو کړي او د پوهنې وزارت رهبرۍ ته یې وړاندې کړي. همدارنګه ځانګړې راپورونه د اړونده ادارو د غوښتنو او معلوماتي اړتیاوو سره سم د راپور ورکولو په ځانګړو فارمټونو کې ترتیبوي او د اداري د سلسله مراتبو په پام کې نیولو سره یې اړونده ادارو سره د وروستیو کړنو په موخه شریکوي.

## سریزه

د پوهنې وزارت پلان شوو موخو او پایلو ته د ښه رسېدو په موخه، خپل عملیاتي پلانونه یې په ملي، ولایتي او د ولسوالیو په کچه د اووګونوعنصرونو پربنسټ (زده کونکی/ طالب العلم/لېک لوست زده کوونکی، ښوونکی/استاد/مدرس، ښوونیزنصاب، ښوونیزه ارزونه، ښوونیز چاپیریال، د ټولنې ګډون او مدیریت) د اړتیاوو او لومړیتوبونو سره سم چمتو کړي دي. د ۱۴۰۵ کال په عملیاتي پلان کې هغه اړین لومړیتوبونه او اهداف چې باید ترلاسه شي شامل شويدي او د پلي کېدو په موخه د ټولومرکزي او ولایتي ریاستونو او د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او مسؤلینو سره شریک شوي دي.

لکه څرنګه چې راپور ورکول او راپور اخېستل د مدیریت یو مهم اصل دی، چې پرله مخې یې له یوې خوا روڼتیا او حساب ورکول رامنځته کیږي چې تمویلونکو او د پروګرامونو پلي کونکو لپاره مهم او اړین ګڼل کیږي، له بلې خوا په بېلابېلو کچو کې مدیران او مسؤلین د  پلانونو د تطبیق د څرنګوالي او پرمختګ څخه لازم معلومات ترلاسه کوي، همدارنګه د هغو ستونزو او ننګونو د پیژندلو او حل لپاره اړین او پر وخت لازم ګامونه پورته کوي چې د پلانونو او پروګرامونو د تطبیق او پرمختګ د خنډ او ځنډ لامل ګرځي.

د څارنې او ارزونې ریاست د راپور ورکولو او همغږۍ آمریت تل هڅه کوي تر څود پوهنې وزارت د پلانونو او پروګرامونو د پلي کېدو او پرمختګ په اړه میاشتني، ربعوار او کلني راپورونه چمتو، مرور او توحید کړي او له بشپړېدو او تایید وروسته یې د اړونده ادارو له مسؤولینو سره شریک کړي،  ترڅو په بېلابېلو کچو کې د پوهنې وزارت اداري د پرمختګونو، لاسته راوړنو، ننګوونو، ځواکمنتیا او کمزورتیا له نقطو څخه باخبره او د هغې څخه په ګټې اخېستنې سره خپل راتلونکي پلانونه او پروګرامونه په غوره او آغېزمنه توګه طرحه او تطبیق کړي.

د دې ربعوار راپور د چمتو کولو اصلي موخه د ۱۴۰۵ کال د عملیاتي پلان د تطبیق او پرمختګ د څرنګوالي څخه ډاډ ترلاسه کول او د پوهنې وزارت د لاسته راوړنو تشریح کول دي، چې د پورته یاد شوو اوو عنصرونو پربنسټ د ټولو پروګرامونو په کچه چمتو او د پوهنې محترم مقام او اړونده شاملو ادارو ته وړاندې کېږي، ترڅو پدې توګه د پوهنې وزارت د مشرتابه، اړونده مسؤلینو، کاري شریکانو او مرستندویه ادارو معلوماتي اړتیا پوره شي.

## د برنامو او عنصرونو پر بنسټ د کړنو او لاسته راوړنو د پرمختګ لنډیز

### ۱. طالب العلم/حافظ/زده کوونکی/لیک لوست زده کوونکی

#### ۱.۱ اسلامي زده کړې

- د کابل د عربي عالي دارالعلوم او د امام ابوحنیفه (رح) دارالعلوم په لیلیو (مبیتونو) کې ۱۰۳ تنه طالبان العلمان جذب او د لیلیې امکانات ورته برابر شوي دي.
- د هېواد په سرو ولایتونو کې پر شرایطو برابر ټولټال ۱۲،۳۱٤ تنه هلکان او نجونې په دارالعلومونو کې جذب شوي دي.
- د کابل ښار په ګډون د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د قرآنکریم له ۲,۵۵۲ تنو حافظانو څخه آزموینه اخېستل شوې ده.
- د حفظ دورې ۴۷۰ قطعې شهادت پاڼې چاپ او وېشل شوي دي.
- د خامسې دورې ۱۴۱۷ قطعې شهادت پاڼې چاپ او وېشل شوي دي.

#### ۲.۱ ښوونه او روزنه

- د عمومي زده کړو په ښوونځیو کې د جذب شوو زده کوونکو د احصایې راټولولو په اړه د کابل ښار د پوهنې ریاست په ګډون د پوهنې ټولو ولایتي ریاستونو ته ۲۱۷۲ ګڼه لیک په ۱۴۴۷/۲۳/۱۱ نېټه لیږل شوی، همدارنګه په سیستم کې د د ارزګان، خوست، زابل، سرپل او لوګر ولایتونو د ثبت شوو راپورونو پر بنسټ، ۲۷’۸۵۴ تنه نارینه او ۱۵’۱۴۲ تنه ښځینه زده‌کوونکي د اړونده ولایتونو په امارتي ښوونځیو کې جذب شوي دي.
- د فاریاب ولایت د پوهنې ریاست د ترلاسه شوي راپور پربنسټ، د ځانګړو اړتیاوو لرونکو ماشومانو له پاره چې ۲۹ تنه نارینه او ۵۹ تنه ښځینه دي د عمومي زده کړو په ښوونځیو کې د ښوونې او روزنې زمینه ورته برابره شوې ده.
- د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې ۱,۷۸٤ تنه نارینه او ۱,٦۲۹ تنه ښځینه زده کوونکي د ښوونځي څخه مخکې زده کړو په ښوونیزه دوره کې شامل شوي دي.
- د ۲۸۰ تنو مجاهدینو څخه په مرکز او ۱,۲۵۳ تنو مجاهدینو څخه په بیلابیلو ولایتونو کې د ټولګي د تثبیت ازموینه اخېستل شویده. همدارنګه د ترلاسه شوو معلوماتو پر بنسټ، په بېلابېلو ولایتونو کې له ۲۴۲ تنو بیرته راستنیدونکو زده کوونکو څخه د ټولګي د تثبیت آزموینه اخېستل شوې او د زده کړو د دوام په موخه اړونده ښوونیزو مرکزونو ته ورپېژندل شوي دي.
- د کابل ښار پوهنې ریاست اړوند په خصوصي ښوونځیو کې ٦۰ تنو زده کوونکو له پاره ترانسکریپټ (درې کلنې ښوونیزې نمرې) چمتو او د وروستیو کړنو په موخه اړونده ادارو ته لیږل شوي دي.
- د کابل ښار په خصوصي ښوونځیو او کورسونو کې ټولټال ۷۵۷ تنه بې وزلو زده کوونکو ته د فیس تخفیف/کمښت اجرا شوی، چې له دې جملې څخه ۵۸۲ تنه زده کوونکي په خصوصي ښوونځیو او ۱۷۵ تنه په خصوصي کورسونو

کې دي. همدارنګه ۴٦ تنه ښوزله زده کوونکو ته په خوست او ١٠ تنه زده کوونکو ته په کاپیسا ولایت کې د فیس تخفیف/کمښت ورکول شوی دی.

- د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د رسمي ښوونکو له لارې پر شرایطو برابر٦'١٩٠ کسان د لیک لوست زده کړې په کورسونو کې جذب شوي او د هغوی لپاره د لیک لوست زده کړو زمینه برابره شوې ده.
- د ولایاتو د ساینس مدیریتونو د علمي غړو د لارښوونو پربنسټ، د عمومي زده‌کړو ۹'۴۹۹ تنو نارینه زده‌کوونکو او د اسلامي زده‌کړو۳۵۰ تنو نارینه طالب‌العلمانو د چاپېریالي (محیطی) مرستندویه درسي توکو څخه ګټه اخېستې ده. د دې فعالیت د ترسره کېدو اصلي موخه داده چې د ساینس او ریاضیاتو د مضمونونو ښوونکي وهڅول شي ترڅو د زده کړو په اړونده چاپېریال کې له شته موادو او امکاناتو څخه ګټه واخلي، ترڅو چې د تدریس بهیر بډایه او پیاوړی شي او زده‌کوونکو ته د درسي مفاهیمو درک کول آسانه شي‌چې په پایله کې به زده‌کوونکي وکولای شي له آغېزمنو تدریسي میتودونو څخه په ګټې اخیستنې، درسي مطالب په لا ښه او عملي ډول زده کړي.
- د پوهنې د ولایتي ریاستونو د صحي مدیریتونو لخوا د روغتیا په برخه کې د عامه پوهاوي پروګرام تطبیق شوی او ١٦'٠٥٠ تنو زده‌کوونکو ورڅخه ګټه اخېستې ده. همدارنګه ۷٦۵ تنو ښځینه ښوونکو ته د فولیک آسید د ارزښت ترسرلېک لاندې ۲ ورځنۍ روزنیز پروګرام په لاره اچول شوی او ګټه یې ورڅخه پورته کړې ده.
- د مرکز او ولایتونو د ښوونځیو په کچه ١٢'٧١٦بېلابېل روغتیایي تبلیغاتي مواد چې بروشورونه، کتابچې او د روغتیایي پیغامونو د ټوکر کڅوړې او همدارنګه ۵'۸۵۹ ټوکه روغتیایي لارښود کتابونه او ۲'۰۳۰ د کلورین ګولۍ/ټابلیټ پکې شامل دي وېشل شوي دي.

## ۳.۱ د وزارت مقام

- د ښوونې او روزنې د ارزښت او اړتیا په هکله آغېزمن او زړه راښکونکي پیغامونه ترتیب شوي او په مرکز او بېلابېلو ولایتونو کې د مخابراتي شرکتونو، د جماتونو د منبرونو او رسنیو له لارې خپاره شوي دي.
- ۳ دانې پایې لرونکي بینرونه چې اندازه یې ۲متره×۸۰ سانتي متره ده، چاپ او نصب شوي دي.
- د رسنیو په مرکز کې د ١,٠٦٠ اداري بستونو د اعلان برنامې لپاره د ۳.۵ متره په اوږدوالي د خبرتیا یوه تخته لوحه، چمتو او چاپ شوې ده.

## ۲. مدرس/استاد/ښوونکی

## ۲.۱ اسلامي زده کړې

- د مسلکي پراختیا ۵۳ تنه غړي ګومارل شوي او د ګومارنې وړاندیزونه یې طی مراحل شوي دي.
- د هېواد د بېلابېلو ولایتونو په دارالعلومونو کې ۲۵ تنه مدرسین ګومارل شوي دي.
- په مرکز او ولایتونو کې ټولټال ۲۳۸۴ تنه استادان، مهتممین او اداري او خدماتي کارکوونکي د اسلامي زده کړو په مرکزونو کې ګومارل شوي دي.

### ۲.۲ ښوونه او روزنه

- د کابل ښار په اړوند ښوونځیو کې د ۱۵۲ تنو ښوونکو او همدارنګه د ولایتونو په کچه ۱۰٦٦ تنو ښوونکو او د صحي مدیریتونو ۱۷ تنو مدیرانو ته په پاکو اوبو او صابون سره د لاس مینځلو او د فولیک اسیډ ګولۍ د ارزښت تر سرلیک لاندې ۲ورځنی روغتیایي روزنیز پروګرام په لاره اچول شوی دی.
- د مدرسینو او د ساینس، ریاضیاتو، کمپیوټر او مستحضر ښوونکو د اړتیاوو د ارزونې په موخه، د ارزونې فورمې ترتیب شوې او د ولایتونو د پوهنې ریاستونو سره شریکې شوې دي. همدارنګه د ښوونکو د روزنیزو اړتیاوو ارزونه په ښوونیزو مرکزو کې پیل شوې او تردې مهاله په ۱۲ ولایتونو کې د ۵۸۸ تنو ښوونکو ارزونه بشپړه شوې ده.
- د ممتازو او مسلکي ښوونکو د وړتیاوو او تجربو څخه د غوره ګټې اخیستنې په موخه، د هیواد په بېلابېلو ښوونځیو کې د ښوونکو د وړتیاوو لوړولو له پاره ۳٬۴٦۲ روزنیزې غونډې (درسي حلقې) جوړې شوې دي.
- په ښوونځیو کې د ښوونکو د کموالي د ستونزې د حل په موخه، د بامیان ولایت د بېلابېلو ښوونځیو د تشو درسي ساعتونو د ډکولو او تدریس په موخه ۱۲۹ تنه ښوونکي توظیف شوي دي.

### ۳.۲ مالي او اداري

- د کابل ښار د پوهنې ریاست د مدرسینو بستونو د دندو ۴ سرلیکه لایحې، د اسلامي زده کړو پروګرام د تفسیر، فقهې او دعوت اصولو د استادانو د بستونو دندو ۳ سرلیکه لایحې او د ښوونې او روزنې پروګرام د صنفي اصولو، د دري ادبیاتو او د پښتو ادبیاتو د ښوونکو د دندو ۴ سرلیکه د لایحو بیا کتل شوي، اصلاح شوي او معیاري شوي دي.
- د پوهنې وزارت د محترم مقام د حکم پر بنسټ، په ټولیزه توګه ۱،۴٦۱ تنه استادان او مدرسین ګومارل شوي دي، چې له دې ډلې ۳۷ تنه په مرکز او ۱،۴۲۴ تنه په ولایتونو کې دي.
- د هیواد په کچه ۱٦٦٦ تنه ښوونکي ګومارل شوي، چې له دې ډلې څخه ۲۴۳ تنه په مرکز او ۱۴۲۳ تنه په ولایتونو کې دي. د یادونې وړ ده چې له یادو کسانو څخه ۷۲ تنه په حکمي او ۱۵۹۴ تنه د آزادې سیالۍ له لارې ګومارل شویدي.
- د ۱۰،۵۱۱ تنو تدریسي کارکوونکو د کلنیو کړنو ارزونه ترسره شوې، چې له دې ډلې څخه ۱۵۰ تنه مرکزي او ۱۰،۳٦۱ تنه ولایتي کارکوونکي دي. د یادونې د چې د یادو کارکوونکو د ارزونې سندونه مطالعه او کتل شوي او اداري پراوونه یې بشپړ شوي دي.

## ۳. نصاب

### ۱.۳ اسلامي زده کړې

- د اسلامي زده کړو منظور شوی ښوونیز نصاب د هیواد د سرو ولایتونو په دارالعلومونو کې په منظم ډول تطبیق شوی او د تطبیق په حال کې دی.

## ۲.۳ ښوونه او روزنه

- د ساینس څانګې د رشته‌بندي شوو مضمونونو د ۱۰-۱۱ ټولګیو د درسي کتابونو تألیف په پښتو ژبه ترکار لاندې دی، چې تر دې مهاله یې ۱۱٪ پرمختګ کړی دی. همدارنګه د ټولنیزو علومو د رشته‌بندي شوو مضمونونو د ۱۰-۱۱ ټولګیو د درسي کتابونو تألیف پیل شوی او پدې برخه کې ٦٪ پرمختګ ترسره شوی دی.
- د ښوونځیو د رشته‌بندی په هکله د ښوونې او روزنې د آمر، د مسلکي پراختیا د ټیم مشر او د اړونده ښوونځیو د آمرینو په ګډون ۱۸۷ تنو ښوونکو ته په مرکز کې ۲ ورځنۍ روزنیز پروګرام دایر شویدی. همدارنګه له پلان شوو ښوونځیو څخه په ۳۰ بابه ښوونځیو کې د رشته‌بندی بهیر په عملي توګه ترسره شوی او په پاتې ښوونځیو کې ادامه لري.
- د عمومي زده‌کړو د ۱۰-۱۲ ټولګیو د درسي کتابونو د تألیف او بیاکتنې چارې رواني دي ، چې له جملې څخه د ۱۰-۱۲ ټولګیو د عربي مضمون د درسي کتابونو سرلیکونو نوملړ ترتیب شوي او د همدې مضمون د ۱۰ ټولګي له کتاب څخه ۳ سرلیکه درسونه تألیف شوي دي. د دې سربېره، د ۱۰ ټولګي د تاریخ او جغرافیې مضمونونو د درسي کتابونو له هر یو مضمون څخه ۵ سرلیکه درسونه بیا کتل شوي او لازم اصلاحات پکې رامنځته شوي دي.
- د انتخابي مضمونونو د درسي کتابونو (د ۱۲ ټولګي د زراعت مضمون درسي کتابونه په پښتو ژبه او د ۱۱ ټولګي د تشبث مضمون درسي کتابونه په دري ژبه) بیا کتنه ترکار لاندې ده او ۷٪ پرمختګ یې کړی دی.
- د عمومي زده‌کړو د ۱۰- ۱۲ ټولګیو د انګلیسي مضمون د درسي کتابونو د علمي او ژبنۍ اصلاح په موخه د سرلیکونو نوملړ ترتیب شوی او د تأیید په موخه د نصاب له محترمې کمېټې سره شریک شوي دي. همدارنګه د ۱۰ ټولګي د انګلیسي او ادبیاتو د مضمون ۲ سرلیکه درسونه تألیف شوي دي.
- د عمومي لیک لوست زده کړې د دویمې سویې د درسي کتابونو (دیني علومو، ساینس، ریاضي او د ښوونکو لارښود کتاب) د تالیف چارې په پښتو او دري ژبو ترکار لاندې دي او ۱۲٪ پرمختګ یې کړی دی.
- له ښوونځي څخه مخکې زده کړې د ښوونیزې دورې له پاره د درسي کتابونو د تالیف په موخه د سرلیکونو نوملړ چمتو او د درسي کتابونو (دیني علومو او ریاضي مضمون په پښتو ژبه او د پښتو ژبې مضمون) د تالیف چارې بشپړې شویدي، چې په ټولیزه توګه ۱۵٪ پرمختګ یې کړی دی.
- د نهم ټولګي د درسي کتابونو د ۳ سرلیکه درسونو بیا کتنه په (ګوجري، نورستاني، پشه یي، بلوچي، ازبکي او ترکمني) ژبو ترسره شوې او ۱۰٪ پرمختګ یې کړی دی.
- د لیک او لوست سند او د سواد زده‌کړې د معیار سند له دري ژبې څخه پښتو ته ژباړل شوي دی. همدارنګه د رشتې پربنسټ ښوونیز پلان، د مدرسو او عمومي زده‌کړو د توحیدي نصاب طرحه او د NTA بستونو د دندو لایحه چې ۳ سرلیکه سندونه کېږي له پښتو ژبې څخه دري ژبې ته ژباړل شوي دي.
- د ۷-۸ ټولګیو د عربي مضمون درسي کتابونو او د ۹ ټولګي د ساینس مضمون د درسي کتابونو بیا کتنه ترسره شوې او لازم اصلاحات پکې رامنځته شویدي. همدارنګه د لیک لوست زده کړې د دویمې سویې د درسي کتابونو، د ۱۰-

۱۱ټولګیو د تشبث مضمون د درسي کتابونو، د ۱۰ ټولګي د زراعت، تاریخ او جغرافیې مضمونونو د درسي کتابونو او د ۹ ټولګي د ریاضي مضمون د درسي کتابونو) بیا کتنې تر سره شوي او لازم اصلاحات په کې رامنځته شویدي.

- په ښوونیزو مرکزونو کې د ښوونیز نصاب د تطبیق د څرنګوالي څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه، د ٤،٠٨١ بابه ښوونځیو څخه د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا د ټیمونو لخوا د هېواد په بیلابیلو ولایتونو کې څارنه ترسره شوې ده.

### ۳.۳ د وزارت مقام

- د عمومي زده کړو له ۱-۱۲ ټولګي پورې په ټولیز ډول ۲۸۵،۳۴۰ ټوکه درسي کتابونه د کابل ښار او کابل ولایت پوهنې ریاستونو ته وېشل شوي دي.
- د اسلامي زده کړو د ۱-۱۲ ټولګي پورې ۷۸،۲۵۲ ټوکه درسي کتابونه د لغمان، نورستان، پکتیکا، ننګرهار، لوګر، کندهار او کنړ ولایتونو پوهنې ریاستونو او همدارنګه د بي بي عایشې صدیقه او کابل عربي دارالعلومونو ته وېشل شوي دي.

## ٤. روزنیزه ارزونه

### ۱.۴ اسلامي زده کړې

- د پوښتنو د بانک سیسټم فعال شوی او اړونده کارکوونکو ته یې د معلوماتي ټکنالوژۍ ریاست د یو تن تخنیکي انجنیر لخوا روزنیز ورکشاپ دایر شویدی.
- د ثانوي او ما فوق‌الثانوي دورو او نورو اړوندو آزموینو د اخیستلو په موخه، ټولټال ۲۱۰ پوښتنې چمتو شوي او له دې جملې ۲۰ پوښتنې په سیستم کې ثبت شویدي.
- د ۷ تنه غوښتونکو ښوونیز سندونو چې ډیپلوماتیک پراوونه یې بشپړ شوي وو، ارزونه ترسره شوې ده.
- د ٦٢٦ تنو علماوو کرامو د ثانوي درجې (دولسم ټولګي) او د ۱٤٦ تنو علماوو کرامو د مافوق ثانوي درجې (خوارلسم ټولګي) تحصیلي سندونه ارزول شوي دي.

### ۲.۴ د کیفیت تضمین

- د دولسم ټولګي د زده کوونکو د زده کړې کچې د ملي ارزونې په موخه، کاري کمېټه جوړه شوې او د دریو مضمونونو (اسلامیات، ژبې او ریاضي) د هر مضمون لپاره ۴۰ معیاري پوښتنې چمتو شوي دي.
- د معیاري، واحد او متمرکزو آزموینو په اړه، د کیفیت تضمین د محترم معینیت او د آزموینو د بورډ ترمنځ غونډه ترسره شوې چې په پایله کې یې د آزموینو د طرحې مسوده چمتو شوې ده.
- د ۱۴۰۵ کال لپاره د معیاري آزموینو د پلي کېدو پلان چمتو شوی او د معیاري آزموینو د بورډ د مشرتابه سره شریک شوی دی.
- د ۱۱ او ۱۲ ټولګیو د پوښتنو بانک د ارزونې او اعتبار ورکولو پلان چمتو شوی دی.

- د پوښتنو بانک د بیاکتنې کمیټه جوړه شوې، او د بیاکتنې په موخه مضمونونه د رشتې سره سم وېشل شوي دي.
- د معیاري آزموينو ریاست داخلي کمېټه د صنفي اصولو د پوښتنو پر بیاکتنې او معیاري کولو بوخته ده او د پلان له مخې هره میاشت د دې ریاست د هر غړي له خوا ۲۵ پوښتنې د لاربنود د معیارونو سره سم بیاکتل کېږي، اصلاح او معیاري کېږي.
- د پوښتنو بانک برېښنايي سیستم چمتو او فعال دی، او د پوښتنو د ثبت او زېرمه کولو له پاره د د دندو د وېش پلان ترتیب شوی دی.
- په ۳۴ ولایتونو کې د صنفي اصولو د ملی ارزونې د پایلو د شریکولو په هکله د معیاري آزموينو ریاست ۳۰ تنه کارکوونکو ته د عامه پوهاوي روزنیز سمینار په لاره اچول شوی دی.

## ۵. روزنیز چاپېریال

### ۱.۵ اسلامي زده کړې

- ۲ بابه خصوصي مدرسې په مرکز او ۲ بابه مدرسې په سرپل ولایت کې د هلکانو له پاره نوي جوړې (تاسیس) شوې او فعالیت یې پیل کړی دی.
- د مرکز او پنجشېر او کندز ولایتونو اړوند د هلکانو د ۳ بابه خصوصي مدرسو د فعالیت جوازونه تمدید/نوي شوي دي.
- د اسلامي زده کړو معینیت له لوري د هېواد په ۲۲ ولایتونو کې ټولټال ۱۰۹ بابه مدرسې او ۹ باب دارالحفاظونه تاسیس شوي دي.
- د اسلامي زده کړو معینیت له لوري د هېواد په ۱۳ ولایتونو کې د ۱۱۳ بابه مدرسو بنې (نوعیت) بدلون موندلی دی.
- د غزني ولایت د ګیلان ولسوالی د اویس قرني مدرسې نوم د دارالتجوید والقرآن دارالحفاظ ته بدل شوی دی.
- د اسلامي زده کړو معینیت له لوري د هېواد په ۱۸ ولایتونو کې ۳۱۰ بابه مدرسې مدغم شوې دي.
- په کابل ښار او د غزني ولایت د ګیلان په ولسوالی کې دوه بابه مدرسې دارالعلوم ته لوړې شوې دي.
- د اسلامي زده کړو معینیت له لوري د غزني ولایت په مرکز او د لوګر ولایت د بره کي برک په ولسوالی کې د اسلامي زده کړو ۲ بابه مرکزونه تجزیه شوي دي.

### ۲.۵ ښوونه او روزنه

- د کابل ښار په ګډون د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې ۴ بابه امارتي،۱۵۰ بابه خصوصي ښوونځي او ۸۰ بابه خصوصي روزنیز کورسونه نوي جوړ شوي دي.
- ۳ بابه امارتي او ٦٥ بابه خصوصي ښوونځي د لومړنۍ دورې څخه منځنۍ دورې ته او همدارنګه ۳ بابه امارتي او ۲۱ بابه خصوصي ښوونځي له منځنۍ دورې څخه لېسې ته لوړ شوي دي.

- د کابل ښار د پوهنې ریاست په ګډون د ولایتونو د پوهنې ریاستونو په کچه د ۷۴ بابه خصوصي ښوونځیو او ۳۴ بابه خصوصي روزنیزو کورسونو د فعالیت جوازونه له قانوني پړاوونو تر تېرېدو وروسته، تمدید/نوي شوي دي.
- د ۴ بابه امارتي او ٦ بابه خصوصي ښوونځیو او٦ بابه روزنیزو کورسونو نومونه د قانوني پړاوونو تر تېرېدو وروسته د اړتیا له مخې بدل شوي دي. همدارنګه د ۵۰ بابه خصوصي ښوونځیو او ۱۳۳ روزنیزو کورسونو نومونه تأیید شوي دي.
- د ښوونکو د کموالي د ستونزې د حل په موخه، د ځُمرې څخه بهر ښوونکو ۵۴ بستونه د اړتیا سره سم په بېلابېلو ولایتونو کې له یوه ښوونځي څخه بل ښوونځي ته لېږدول شوي دي.
- په ښوونیزو مرکزونو کې د مناسب چاپېریال د رامنځته کولو په موخه، د کابل ښار د پوهنې ریاست په ښوونځیو کې ۲۰۰ بېمېوو نیالګي او د ولایتونو په بېلابېلو ښوونځیو کې ۸۲۰ بې میوو نیالګي کینول شویدي.
- په ښوونځیو کې د تدریس د کیفیت د ښه والي په موخه، د ریاضیاتو۲۴۰ کیټونه د بېلابېلو توکو (لرګي، پلاستیک او فلز) او۷۸۰ د انسان د اناتومي د تشریح بېلابېل ماډلونه له ګچ څخه جوړ شوي دي. همدارنګه ۴۰۰۰ فرشه ښوونیز چارټونه چاپ شوي او په پام کې ده چې د اړتیا له مخې ښوونځیو ته ووېشل شي.
- لومړنیو ټولګیو په ځانګړي ډول د لومړي ټولګي د زده‌کوونکو له پاره د غوره درسي ټولګیو د ځانګړې کېدو څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه، ۲۰۹۰ غوره درسي صنفونه د لومړي ټولګي لپاره ځانګړي شوي دي.
- په ښوونیزو مرکزونو کې د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د ۱۰۵ بابه لابراتوارونو د رامنځته کولو او تجهیز په موخه، د اړتیاوو معلومولو فورمې ترتیب او د ولایتي مسؤلینو سره شریکې شویدي. د ترتیب شوو فورمو سره سم په ښوونځیو کې د اړتیاوو معلومولو ارزونه پیل شوې او په ۲٦ ولایتونو کې بشپړه شویده. د یادونې وړ ده چې په ګودامونو کې د ۱۴۰۴ کال له تثبیت شوو وسایلو او توکو څخه په ګټې اخېستنې سره په کابل ښار او پروان ولایت کې ۵ بابه لابراتوارونه جوړ شوي دي.
- د بېښوونکو درسي ټولګیو د معلومولو په موخه، ۳۹٦٦ بابه ټولګي د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا د ټیمونو له خوا د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې په نښه شوي دي.
- د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د ښوونځیو ۴۱۵ شوراګانې جوړې شویدي او همدارنګه ۳٦۷ د ښوونځیو شوراګانې نوي شوې دي.
- پر شرایطو برابرو کسانو له پاره د لیک لوست زده‌کړې د زمینې برابرولو په موخه، په ټولیزه توګه ۹۹۳ بابه کورسونه د رسمي ښوونکو له لارې په بامیان، نیمروز، پکتیکا، فاریاب، هرات، خوست، دایکندي، زابل، کابل ښار، غور، فراه، کندز، لغمان او هلمند ولایتونو کې جوړ شوي دي. د یادونې وړ ده چې د پاتې ولایتونو د کورسونو راپورونه تر اوسه نه دي ترلاسه شوي.
- د امارتي ادارو د کم سواد او نالوستو خدماتیاو نظامي کارکوونکو له پاره د لیک لوست زده کړې ۳۵ بابه کورسونه د کلیو د بیارغوني او پراختیا، د کانونو او پټرولیم او کرنې او مالدارۍ وزارتونو، د بدني روزنې عمومي ریاست، د افغانستان بانک عمومي ریاست او د چاپېریال ساتنې په ادارو کې جوړ شوي دي.

### ۳.۵ مالي او اداري

- د ارزګان ولایت د جهادي مدرسې لپاره د ۵۰ جریبه ځمکې، د جوزجان ولایت د جهادي مدرسې لپاره د ۴۰ جریبه ځمکې او د پکتیکا ولایت د مارزک دیني مدرسې لپاره د ۱ جریب ځمکې د پروتوکول برابرولو چارې ترسره شوې دي.
- د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د پوهنې وزارت د ملاتړ موسسو له بودیجې څخه ۱۷ ترمیماتي پروژې د ننګرهار، خوست، لغمان، کنړ، بامیان، او میدان ورکو په ولایتونو کې بشپړې شوي او ۱۸۲ ترمیماتي پروژې تر کار لاندې دي. سربېره پر دې، د ساحوي راپورونو له مخې د پوهنې وزارت د مرکزي هستې د ودانیو او تأسیساتو د ۸ ترمیماتي پروژو چارې، چې قراردادونه یې د تدارکاتو محترم ریاست له لوري را استول شوي وو بشپړې شوي او ۳ پروژې تر قرارداد لاندې دي.
- د کابل ښار په ګډون د بدخشان، هرات، کابل او سمنګان ولایتونو په کچه د ۱۰۸ بابه ښوونځیو سجل په سیستم کې ثبت شوي دي
- د ۲۰ بابه ودانیو، ٦٥ بابه ښوونیزو مرکزونو د احاطو او د ۱۰۸ بابه ښوونځیو د ترمیم او بیا رغونې سندونه د بېلابېلو ولایتونو په کچه تر کتنې وروسته په سیستم کې ثبت شوي دي.
- د فراه، بغلان او بلخ ولایتونو څخه د ۱۳۸ بابه شخصي ودانیو د کرایې قراردادونه، چې ټولیز ارزښت یې ۱۰۰'۴۴۰'۵ افغانۍ وه، تر لاسه او له ارزونې وروسته په سیستم کې ثبت شوي دي
- ټولټال ۴۲،۱۹۰ تنه زده کوونکي د ماینونو او ناچاودو توکو په اړه د عامه پوهاوي له سمینار څخه برخمن شوي دي.

## ٦. د ټولنې ګډون

### ۱.٦ ښوونه او روزنه

- د ښوونکو د کموالي د ستونزې د حل په موخه، ۱۹۵ تنه افتخاري ښوونکي د ښوونځیو د شوراګانو له خوا په بېلابېلو ولایتونو کې جذب شوي دي.
- د لیک لوست زده کړې د کورسونو د غوره تطبیق له پاره د مالي او تخنیکي ملاتړ د جلبولو په موخه، د لیک لوست ۹۲٦ کلیوالي کمېټې په بېلابېلو ولایتونو کې جوړې شوې دي.
- د لیک لوست زده کړې د کمېټو ۱۴غونډې په ولایتي کچه، ۵۸ د ولسوالیو او ۵۷ غونډې د کلیو په کچه ترسره شوي، چې په یادو غونډو کې د لیک لوست زده کړو اړوند موضوعاتو باندې بحث ترسره او نظرونه سره شریک شوي دي.
- د لیک لوست زده کړې د لومړۍ سویې د نصاب ۴ سرلیکه درسونه په دري ژبه او ۴سرلیکه درسونه په پښتو ژبه په ښوونیز او روزنیز ټلویزیون کې ثبت شوي دي.

### ۲.٦ مالي او اداري

- د بغلان، بادغیس، سرپل، پروان، پنجشیر، فاریاب، کندهار، پکتیا، فراه او ننګرهار ولایتونو اړوند ښوونځیو، مدرسو او دارالحفاظونو ته ۹۱.٤٥ جریبه ځمکه برابره شوې ده.

## ۷. مدیریت

### ۱.۷ اسلامي زده کړې

- د اسلامي زده کړو معینیت د قابلیتونو د ارزونې ریاست لوري د مرکز په کچه د ۳۵ بابه مدرسو ارزونه او کنټرول ترسره شوی دی.
- د عالیه دورې ۴۲۴ قطعې شهادت پاڼې چاپ شوې دي.
- د تشکیلاتي ستونزو د حل په موخه، د اسلامي زده کړو معینیت له لوري د هېواد په ۲۵ ولایتونو کې ٥٨٦ بستونه ۴۸۰ بابه مدرسو، ۱۴بابه دارالحفاظونو او یو باب دارالعلوم ته وېشل شوي او لېږدول شوي دي.
- د ۱۰۹ بابه مدرسو او ۱۰ بابه دارالحفاظونو د تاسیس په موخه، ۱۹۸ بستونه د اسلامي زده کړو معینیت له لوري د هېواد په ۲۰ ولایتونو کې وېشل شوي دي.

### ۷.۲ ښوونه او روزنه

- د پوهنې وزارت د مرستندویه مؤسسو د ۱۷هوکړه لیکونو بیا کتنه ترسره شوې او لازم اصلاحات پکې رامنځته شوي دي.
- د پوهنې وزارت د ملاتړو مؤسسو د پروژو د تطبیق د ۱۳۳ راپورونو بیاکتنه ترسره شوې او د اصلاح له پاره یې اړین نظرونه او وړاندیزونه له اړونده ادارو سره شریک شوي دي.
- د کارکوونکو د کاري ظرفیت لوړولو برنامو د غوره تطبیق له پاره د مالي او تخنیکي ملاتړ د ترلاسه کولو په موخه، د یونیسف اداري سره غونډه ترسره شوې چې په پایله کې د ۵۰۰۰ تنو کارکوونکو لپاره د ورکشاپونو د مالي ملاتړ ډاډ ورکړل شوی دی.
- له هېواد څخه د بهر ښوونځیو د ۲۰۵ تنو زده کوونکو ښوونیز سندونه ارزول شوي او د وروستیو کړنو په موخه اړونده مراجعو ته لېږل شوي دي.
- د ښوونې او روزنې د کلینیکونو د OPD په څانګه کې د ١٤٧٤ تنو ناروغه کارکوونکو معاینه او درملنه او ٥٢٨ ناروغ کارکوونکو ته لابراتواري معاینات ترسره شویدي. ۷۲ تنه ناروغ کارکوونکي د اسانتیاوو د نشتوالي له امله نورو روغتونونو ته د درملنې لپاره راجع شوي او همدارنګه ۴۳ تنه کارکونکي تقاعد ته سوق شویدي.
- په صابون او اوبو سره د لاسونو مینځلو او د کولو د چینجیو د لمنځه وړلو کمپاین د پلي کیدو د څرنګوالي څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه، د مرکز او ولایتونو په کچه له ۴۸ بابه ښوونځیو څخه څارنه ترسره شوې ده.
- په خصوصي ښوونیزو مرکزونو کې د ښوونکو او مدرسینو د ګومارنې لاربنود، د ښوونکي لاربنود او د زده‌کوونکو ترمنځ د شخصي حفظ الصحې د لاربنود مسودې چمتو او د منظورۍ له پاره د ښوونې او روزنې محترم معینیت ته لیږل شوې دي.

- د لومړنۍ دورې (۱-۳ ټولګیو) د لوستلو او لیکلو د مهارتونو د لارښود او د لیک لوست زده‌کړې د کورسونو د څارنې او ارزونې د لارښود مسودې چمتو شویدي.
- له هېواد څخه د بهر ښوونځیو د زده‌کوونکو د ښوونیزو سندونو د ارزونې او د ټولګي د تثبیت د کړنلارو مسودې چمتو شوې او د وروستیو کړنو په موخه د ۱۳/۱۱/۱۴۴۷ نېټې د ۲۰۳۰ ګڼه لیک پربنسټ د پلان او پالیسۍ ریاست ته لېږل شوې دي.
- د درسي کتابونو د تالیف د لارښود مسوده چمتو او د نظر غوښتنې لپاره له اړونده ادارو سره شریکه شوې ده.
- د تدریساتو کمیسیون له خوا د ۱۳ بابه خصوصي ښوونځیو شریکي شوي ستونزې او ننګونې څېړل شوي او د حل لپاره یې اړین اقدامات ترسره شوي دي.
- د خصوصي ښوونیزو کورسونو د زده‌کوونکو ۱٬۲۴۸ قعطې تصدیق پاڼې په ډیټابیس کې ثبت شوې دي.
- د ښوونځیو د شوراګانو د فعالیتونو څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه، د ۲۸۳۹ بابه ښوونځیو شوراګانو څخه د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ټیمونو لخوا د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې څارنه ترسره شویده.
- د ښوونځیو د درسي او اداري چارو د کیفیت د څرنګوالي څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه، د مرکز او ولایتونو په کچه له ٦،٦٥٦ بابه ښوونځیو او د لیک لوست زده کړې ۸۰۵ بابه کورسونو څخه څارنه ترسره شویده.
- د ترلاسه شویو راپورونو پر بنسټ، د مرکز او ولایتونو په کچه د ۳۴،۹۳۳ تنو ښوونکو له درسي بهیر او ۴،۵۲۴ تنو سر ښوونکو او ۳،۴۲۷ تنو د ښوونځیو آمرینو/ مدیرانو له فعالیتونو څخه کتنه ترسره شویده.
- د ساینس مرکزونو د مدیریتونو د علمي غړو لخوا د ښوونیزو مرکزونو د لابراتواري فعالیتونو ملاتړیزه څارنه روانه ده چې تردې مهاله په ۲۴ ولایتونو کې له ۳۸۲ بابه امارتي ښوونځیو او ۱٦۷ بابه خصوصي ښوونځیو څخه څارنه ترسره شوې ده.
- د عمومي زده کړو د لومړنیو، منځنیو او ثانوي دورو په ښوونځیو کې «د زده کوونکو نورم و شعبې ته» له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه، د ۲،۴۵۰ بابه ښوونځیوڅخه څارنه ترسره شویده.
- د تدریساتو د کمیسیون ۹ غونډې دایر شوي او د ۲۴۷ بېلابېلو موضوعاتو (د مراجینو د غوښتنلېکونو او د رسمي ادارو د مکتوبونو او وړاندیزونو) په اړه لازمې پریکړې ترسره شوي دي.

### ۳.۷ د کیفیت تضمین

- د سړو سیمو ولایتونو د ښوونیزو مرکزونو د احصائیوی ارقامو او معلوماتو راټولولو په موخه، ۳۰،۰۰۰ فورمې چاپ او اړوندو مسئوولینو ته وېشل شوې دي.
- د ۱۰۰ باب ښوونیزو مرکزونو (۱۰٪) معلومات، په سیستم کې ثبت او اصلاح شوي دي.
- د ښوونیزو مرکزونو د جغرافیایي موقعیت د معلومولو په موخه، د ۴۹ بابه ښوونیزو مرکزونو کواردیناټ (مختصات) راټول شوي دي.

- د معیاري آزموینو د پلي کېدو د لاربنود مسوده چمتو او بشپړه شوې ده او د ۱۴۴۷/۹/۲۴ نیټې د ۵۸ ګڼه لیک له لارې د پلان او پالیسۍ ریاست ته او د ۱۴۴۷/۸/۲۳ نیټې د ۸۳۰ ګڼې لیک (مکتوب) له لارې د علمی شورا ریاست ته لیږل شوې ده.
- د شهادت نامو د آنلاین کولو په موخه، د دوماین طرحې له پاره ټولیزه محتوا چمتو شوې ده.
- د شهادتنامو د مدیریت معلوماتی سیستم د پراختیا په موخه، ټولیزه او لومړنۍ مسوده ترکار لاندې ده او ۵٪ پرمختګ یې کړی دی.
- د امارتي ښوونځیو د فارغانو لپاره (۲۳۷۹) قطعې شهادتنامې، د خصوصي او له هېواد څخه بهر ښوونځیو فارغانو ته (۳۴۵) قطعې، د دارالعلومونو، دارالحفاظونو او مدرسو د فارغانو له پاره (۴۳۵) قطعې او د دارالمعلمین فارغانو لپاره (۴۴۹) قطعې شهادتنامې د نتایجو او شهادتنامو ریاست لخوا په متفرقه توګه چاپ شوي او وېشل شوي دي.
- د امارتي ښوونځیو فارغانو لپاره (۸،۳۰۵) قطعې شهادتنامې، د خصوصي ښوونځیو د فارغانو له پاره (۹٦) قطعې، د اسلامي زده کړو مرکزونو فارغانو ته (۲۴۹) قطعې او دارالمعلمینو فارغانو ته (۲۴۸) قطعې شهادت نامې د قانوني پړاوونو له بشپړېدو وروسته په انفرادي ډول وېشل شوي دي.
- د امارتي ښوونځیو فارغانو لپاره (۴۲،۲۸۸) قطعې شهادتنامې، د خصوصي ښوونځیو فارغانو ته (۴،۳٦۸) قطعې، له هېواد څخه بهر ښوونځیو له پاره (۱۴) قطعې او د اسلامي زدکړو مرکزونو د فارغانو لپاره (۱،۴۹۰) قطعې شهادتنامې د قانوني پړاونو له بشپړېدو وروسته په ګروپي توګه، اجرا او وېشل شوي دي.
- د نتایجو او شهادتنامو ریاست لخوا ۴۴،۵۷۸ قطعې سپینې شهادتنامې د کابل ښار د پوهنې ریاست په ګډون د ټولو ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته د شهادتنامو د چاپ او وېش په موخه، وېشل شوې دي.
- د فارغانو ټولټال (۵۰۵۸) قطعې شهادت نامي، د شهادت نامو آنلاین سیستم (CMIS) له لارې تطبیق شوي او د ډېرین مهر لګولو په موخه د بهرنیو چارو وزارت د قونسلي چارو ریاست ته لېږل شوي دي.
- د امارتي ښوونځیو د فارغانو (۳۳،۸۳٦) قطعې شهادتنامې، د خصوصي ښوونځیو (۴،۲۱۲) قطعې او د اسلامي زده کړو مرکزونو د فارغانو (۳،٦٦۸) قطعې شهادت نامې د کابل ولایت او د کابل ښار د پوهنی ریاستونو له خوا د شهادت نامو په بریښنایې سیستم کې ثبت شوي دي.
- د دارالمعلمین د فارغانو (۴۰،۱۴۴) ټوکه نتایج، له هېواد څخه د بهر ښوونځیو (۱۹۵) ټوکه نتایج او د سامع فارغانو (۴،۵۲۷) ټوګه نتایج د نتایجو او شهادتنامو ریاست لخوا په بریښنایې سیستم کی ثبت او زېرمه شوي دي.
- د امارتي ښوونځیو د فارغانو (۷،۲۰۰) ټوکه نتایج، د خصوصي ښوونځیو د فارغانو (٦۷۰) ټوکه، د هېواد څخه د بهر ښوونځیو (۱۴۷) ټوکه نتایج او د دارالعلومونو، دارالحفاظونو، او مدرسو د فارغانو ۲٤۰۷۷ ټوګه نتایج د شهادتنامو په بریښناني سیستم کې ثبت شوي دي.
- د امارتي ښوونځیو د فارغانو (۳،۰٦۱) ټوکه نتایج، د خصوصي ښونځیو (۹۷)، د هېواد څخه د بهر ښوونځیو (۷) توکه نتایج، د سامع د فارغانو (۴،۵۲۷) ټوکه نتایج، د دارالعلومونو، دارالحفاظونو او مدرسو د فارغانو (۳۱۲) ټوکه نتایج او د دارالمعلمینونو د فارغانو (۸۴۱) ټوکه نتایج د نتایجو او شهادت نامو ریاست لخوا مهر او لاک شوي دي.

- د امارتي ښوونځيو د فارغانو (۶۵۵) ټوکه نتايج، د خصوصي ښوونځيو د فارغانو (۱۶۴) ټوکه نتايج، له هېواد څخه د بهر ښوونځيو فارغانو (۲) ټوکه نتايج، د دارالعلومونو، دارالحفاظونو او مدارسو د فارغانو (۱۶۶) ټوکه نتايج، د دارالمعلمينونو د فارغانو (۱۹) ټوکه نتايج او د سامع فارغانو (۱،۰۲۶) ټوکه نتايج د نتايجو او شهادت نامو رياست لخوا تطبيق، تدقيق او تائيد شوي دي.
- د کارمندنې (۸،۲۷۷) فورمې، د تعليمي سوابقو د سمون او اصلاح مکتوبونه، استعلامونه او نورې اړونده تحصيلي فورمي د برېښنايې سيستم له لاري اجرا او وېشل شوي دي.
- د اړونده شعبو څخه د معلوماتو د راټولولو وروسته د پلانونو د تطبيق او کړنو په هکله (۲) راپورونه ترتيب او د کيفيت تضمين معينيت ته لېږل شوي دي.
- د ټاکل شوو موضوعاتو لپاره د پلان سره سم، د ۸ څېړنو طرحې چمتو شوي او د ستونزو د ابعادو (رېښو) پېژندلو او د هغې د حل لارو موندلو په موخه اکتشافی مطالعه ترسره شوې ده.
- د څېړنيزو راپورونو او پايلو څخه د ګټې اخيستنې په موخه، ۳ څېړنيز راپورونه د معياري آزموينو رياست سره، ۲ څېړنيز راپوروته د څارنې او ارزونې رياست سره او ۱۵ څېړنيز راپورونه د پلان او پاليسی له رياست سره شريک شوي دي، ترڅو د څېړنيزو راپورونو د پايلو څخه د پوهنې وزارت تقنيني سندونو په ترتيب او پراختيا کې ګټه واخيستل شي.
- د کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون څخه ۸ څېړنيزې مقالې راټولې شوي، او د څېړنو د بانک په برېښنايې سيستم کې ثبت شوي دي.
- د پوهنې په برخه کې د علمي څېړنو د ترسره کولو لارښود، چې مسوده يې په ۱۴۰۴ مالي کال کې ترتيب او پړاوونه يې بشپړ شوي وو، د ۱۴۰۵ مالي کال په لومړۍ ربعه کې منظور شوې ده.
- د مراجعينو ۱۱۴ قطعې عرض پاڼې د پړاوونو د بشپړولو په موخه، د کيفيت تضمين معين صاحب له حکم وروسته د شهادتنامو رياست ته استول شوې دي.
- د کيفيت تضمين معينيت د آمريت دفتر سره په همغږۍ د اړونده رياستونو د فعاليتونو په هکله ۱۰ غونډې تنظيم شوي دي.
- د څارنې او ارزونې رياست د څارنې آمريت څارنيز پلان چمتو شوی او د بيا کتنې، تدقيق او منظورۍ په موخه د علمي شورا رياست ته استول شوی دی، خو تر دڅ مهاله د علمي شورا رياست لخوا پدې هکله کوم اجراآت نه دي شوي.
- د څارنې آمريت، د ۳۶ کارکوونکو لپاره د څارنې شاخصونو د تشريح او توضيح او د څارنې د نويو شاخصونو په پراختيا او جوړولو باندې د عملي کار  په برخه کې د روان کال د حمل مياشتې په ۲۴ نېټه روزنيز پروګرام داير شوی دی.

- د ټاکل شویو ځلورو موضوعاتو له پاره د ارزونې د طرحې او پلان مسوده چمتو شوې او د نظرغوښتنې په موخه د ځارنې او ارزونې ریاست د تخنیکي کمیټې، د کیفیت تضمین معینیت د متخصصینو سره شریکه شوې ده، د یادونې وړ ده چې د تخنیکي کمیټې نظرونه او وړاندیزونه د طرحې په سند کې پلي شوي دي.
- د ارزونې د معیارونو او شاخصونو په اړه د معلوماتو راټولولو په موخه، پوښتنې چمتو او د ارزونې په سیستم کې ثبت شوي دي.
- د ۱۴۰۴ کال د کړنو ارزونې بهیر د پوهنې وزارت د ټولو مرکزي ریاستونو په کچه پیل شوی او اړونده کارکوونکي په عملی توګه د ساحې څخه د معلوماتو په راټولولو بوخت دي.
- د عملیاتي پلان د تطبیق او پرمختګ، همدارنګه د میاشتني راپورونو د راټولولو او په سیستم کی د ثبتولو په موخه، د راپورو ورکولو ځانګړی فارمټ چمتو شوی او د مرکزي ریاستونو او د ولایتونو د پوهنې ریاستونو په کچه د راپور ورکولو له مسئولینو سره شریک شویدی.
- د مرکزي ریاستونو څخه ۳۰ ربعوار راپورونه ترلاسه شوي او د نهایي کولو په موخه بیا کتل شوي او اصلاح شوي دي.
- د ربعوار تشریحي راپور فارمټ چمتو او ټولو مرکزي ریاستونو ته لیږل شوی او د ربعوار راپورونو د پشپړېدو په موخه، د راپور ورکولو مسئوولینو سره شریک شویدی.
- په سیستم کې د میاشتنې راپورونو د ثبتولو څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه، د راپور ورکولو آمریت کارکوونکي مرکزي ادارو ته ور پېژندل شوي او د مرکزي ادارو مسؤولینو ته د سیستم کارولو او د میاشتنې معلوماتو د ثبتولو په موخه اړینې لارښونې ترسره شوي دي.
- د ۱۴۰۴ مالي کال د عملیاتي پلان د تطبیق او پرمختګ ملي راپور د راټول شویو معلوماتو پر بنسټ چمتو شوی دی.
- د کابل ښار په ګډون د ولایتونو د پوهنې ریاستونو څخه د ۱۴۰۴مالي کال د عملیاتي پلان د تطبیق او پرمختګ ۳۵ کلنې راپورونه راټول شوي، او تر کتنې او اصلاح وروسته د شریکولو او خپرولو لپاره چمتو دي.

## ۴.۷ مالي او اداري

- د ۱۴۰۵ مالي کال د حمل میاشتې ۲.۹ میلیارده افغانۍ بودیجه او همدارنګه د ۱۴۰۵ مالي کال د ۲۱ کوډ (معاشونه) او د ۲۲ باب یو میاشتنې لګښتونه تایید او له منظورۍ وروسته د پلان سره سم د ترتیب او تنظیم چارې ترسره او د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لېږل شوې ده.
- د منظور شوې بودیجې پر بنسټ، د ۱۴۰۵ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې ۲،۲۶۲،۰۴۲،۵۵۴ (دوه میلیارده، دوه سوه دوه شپېته میلیونه، دوه ځلوېښت زره، پنځه سوه څلور پنځوس) افغانۍ لګول شوي او ټول مالي موارد او موضوعات پلي او عملي شوي دي.

- د ۱۴۰۵ مالي کال د حمل او ثور میاشتو اړوند له پراختیایي بودیجې څخه ۲۰،۵۰۱،۸۱۹ افغانۍ د ۹۵ تنو NTA کارکوونکو د معاشونو د ورکړې په موخه اجرا شوې دي.
- د پوهنې وزارت اړوند ۱۲۱ جایدادونه، چې د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د غصب له ګواښ سره مخ وو، پېژندل شوي دي؛ د پوهنې وزارت ۵۸ غصب شوي جایدادونه د مرکز او ولایتونو په کچه تر تعقیب او څارنې لاندې نیول شوي دي. همدارنګه د هرات ولایت د سلطان غیاث الدین غوري ښوونځي جایداد، د فاریاب ولایت د زرشوې ښوونځي جایداد او د پنجشېر ولایت د انوري په نوم د هلکانو لېسې اړوند جایدادونه د غصب کوونکو له منګولو څخه خلاص شوي دي.
- د جوزجان، بامیان، فاریاب، بادغیس، خوست، پروان، سرپل، کندوز او لغمان ولایتونو د پوهنې ریاستونو د هټیو، کانتینونو او غرفو د کرایې له درکه ٤،٥٢٥،٠٨٩ افغانۍ او همدارنګه د پکتیا ولایت د پوهنې اړوند د ځمکې د اجارې څخه ١٧٩،٣٤٠ افغانۍ عواید، چې بانکي آویزونه یې رارسېدلي وو، څېړل شوي او په سیستم کې ثبت شوي دي.
- د فراغت د سندونو او تصدیق پاڼو د وېش، خصوصي ښوونیزو مرکزونو او د پوهنې وزارت د اړوند جایدادونو له لارې ١٦،٣٦٣،٩١٢ (شپاړلس میلیونه، درې سوه درې شپېته زره، نهه سوه نهه دولس) افغانۍ عواید ترلاسه شوي دي.
- د کابل ښار د پوهنې ریاست د ۱، ۳، ٦ او ۷ ښوونیزو حوزو اړوند د ۴٦ تنو کارکوونکو د ښوونیزو اړتیاوو ارزونه په حضوري ډول او د کندوز ولایت د پوهنې ریاست د ١٦٧ تنو اداري کارکوونکو د ښوونیزو اړتیاوو ارزونه په آنلاین ډول ترسره شوې ده.
- مرکزي ریاستونو ته ۳۵۴ قلمه چاپي/مطبوع قرطاسیه او ۱،۱۵۰ قلمه ناچاپه/غیرمطبوع قرطاسیه وېشل شوې ده.
- د خدماتو ریاست د تخنیکي او مسلکي ټیم له خوا د څرخي پله په ورکشاپونو کې ٦٣٠ سیټه دوه کسیز میزونه او څوکۍ تولید شوې دي.
- د خدماتو ریاست د ګرځنده ټیم له خوا د کابل ښار پوهنې ریاست اړونده ښوونځیو کې ٤،٥٣٩ سیټه میزونه او څوکۍ بیا رغول شوې دي.
- د پوهنې وزارت وسایطو ته ۲۹،۹۴۱ لیتره ډیزل تیل، ۲۱،۸٦۵ لیتره پټرول تیل او ۸۸۸ لیتره پسرلني مبلایل وېشل شویدي، سربېره پردې، د پوهنې وزارت جنراتورونو ته ۵،۹۷۴ لیتره ډیزل تېل هم وېشل شوي دي.
- د پوهنې وزارت په ورکشاپ کې ٥٦٢ عرادې وسایط ترمیم شوي دي، همدارنګه د امکاناتو د نشتوالي له امله ۴ عرادې وسایط په آزاد بازار کې ترمیم شوي دي.
- د رسمي کارونو پرمخ وړولو په موخه، د مرکز په کچه ٦۴۱ عرادې موټر او د ولایتونو په کچه ٣٦ عرادې موټر توظیف شوي دي.
- د پراختیایي پروژو د کارکوونکو د ګومارنې کړنلاره ترتیب شوې او د کره کتنې، علمي استخراج او ژباړې په موخه د علمي شورا ریاست ته لېږل شوې ده.
- د پوهنې وزارت کارکوونکو ته ۳،۲۸٦ قطعې د پېژندنې کارتونه چاپ او وېشل شوي دي.

- د علمي شورا رياست د بستونو ۴ سرليکه، د معلوماتي ټکنالوژۍ رياست د مسلکي غړو د بستونو ۲ سرليکه، د کابل ولايت پوهنې رياست د ښوونکو د روزنې مديريتونو د بستونو ۲ سرليکه او د کابل ښار پوهنې رياست د ښوونکو د روزنې مديريتونو د بستونو ۳ سرليکه د دندو د لايحو بياکتنه ترسره شوې او د اصلاحاتو وروسته معياري شوې دي.
- د پوهنې وزارت د محترم مقام د حکم پر بنسټ، په مرکزي کچه ۴۶ تنه مامورين او ۲۸۳ تنه خدماتي کارکوونکي، او همدارنګه د ولايتونو په کچه ۳۵۶ تنه مامورين او ۵۴۴ تنه خدماتي کارکوونکي ګومارل شوي دي.
- د ۱،۳٦٦ تنو اداري کارکوونکو د کړنو کلنۍ ارزونه ترسره شوې، چې له دې جملې څخه ۳۵۲ تنه مرکزي اداري کارکوونکي او ۱،۰۱۴ تنه ولايتي اداري کارکوونکي دي
- د نويو ګومارل شويو کارکوونکو ۵،۴۳۷ ټوکه سوانح ترتيب شوي دي، چې له دې جملې څخه ۱،۰۳۲ ټوکه سوانح د مرکزي کارکوونکو او ۴،۴۰۵ ټوکه د ولايتي کارکوونکو دي.
- د نويو ګومارل شويو کارکوونکو ۲،۵۱۸ ټوکه سوانح په سيستم کې ثبت  شوي دي.
- د پوهنې وزارت ۱۴۱ تنه مرکزي کارکوونکي او ۹۸۰ تنه ولايتي کارکوونکي د عمر د زياتوالي او د خدمت مودې د پوره کولو له امله تقاعد شوي دي.

## ۵.۷ د وزارت مقام

- د «عرفان» (٦۳۱ او ٦۳۲ ګڼې) مجلې څخه ۳,۰۰۰ ټوکه چاپ شوي دي، چې له دې جملې څخه ۵۰۰ ټوکه مرکز او ۲,۵۰۰ ټوکه ولايتونو ته وېشل شوي دي.
- د «بخوان و بینديش» (۳۰ او ۳۱  ګڼې) مجلې څخه ۳,۰۰۰ ټوکه چاپ شوي دي، چې له هغې څخه ۵۰۰ ټوکه مرکز او ۲,۵۰۰ ټوکه ولايتونو ته وېشل شوي دي.
- په ټوليز ډول د  پوهنې اونيزې (۲۲، ۲۳، ۲۴ او ۲۵ ګڼې) ۱۲,۰۰۰ ټوکه چاپ شوې دي، چې له هغې څخه ۲,۰۰۰ ټوکه ته مرکز او ۱۰,۰۰۰ ټوکه ولايتونو ته وېشل شوې دي.
- د عرفان مجلې ۲ سرليکونه، د بخوان و بینديش مجلې ۲سرليکونه او د پوهنې اونيزې ۴ سرليکونه ډيزاين شوي دي.
- په ټوليز ډول ۱٦ بوديجوي، اداري او ښوونيز واحدونه چې۱۰ يې مرکزي او ٦ ولايتي (بدخشان، پکتيا، پکتيکا، فارياب، بلخ او جوزجان) واحدونه دي تر پلټنې او کتنې لاندې نيول شوي دي او دوسيې  يې تر دوران لاندې دي.
- په ټوليز ډول په مرکز او ولايتونو کې ۲۷ ځانګړې قضيې ثبت شوې دي؛ چې له دې جملې څخه ۱۹ قضيې مرکزي او ۸  قضيې ولايتي دي.
- د ولايتونو د پوهنې رياستونو ۱۴۴,۱۸۳ تنه کارکوونکي او د پوهنې وزارت د مرکزي ادارو  ۹,۵۹٦ تنه کارکوونکي د هبې، مزارعت، مسافات، شرکت او همدارنګه د قربانۍ اړوند مسايلو په اړه  په روزنيزو پروګرامونو کې ګډون کړی دی.

- د کابل ښار د پوهنې ریاست د ۱،۲،۳،۴،۱۰،۱۱،۱۵ او ۱۷ ښوونیزو حوزو د آمرینو او ۱۰۸ تنو ښوونکو لپاره د «امر بالمعروف او نهی عن المنکر» د قانون د تطبیق په اړه یو ورځینی اصلاحي او روزنیز سیمینار د پوهنې وزارت د مرکزي هستې په تالار کې دایر شوی دی.
- د مصوباتو، فرمانونو او حکمونو د تطبیق په موخه، د لوړو پوړو مقاماتو ۱ مصوبه او ۳۸ حکمونه تعقیب او اړونده ادارو ته استول شوي دي.
- د ۸ هوکړه لیکونو مسودې د لاسلیک څخه مخکې د نظر غوښتنې په موخه د پوهنې وزارت له اړوندو ادارو سره شریکې شوې دي.
- د غوره ښوونیزو خدمتونو د وړاندې کولو په موخه، د پوهنې وزارت او همکارو مؤسسو ترمنځ د همکارۍ ۲۲ هوکړه لیکونه لاسلیک شوي دي، چې له دې جملې څخه ٦ هوکړه لیکونه د مرکز او ١٦ هوکړه لیکونه د ولایتونو په کچه دي.
- له هېواد څخه د بهر آتشو د کارکوونکو او د مدرسو او دارالایتامونو د مسؤولینو د ذاتي چارو په اړه، چې ټولټال ٦٣٠ مورده جوړوي، اړینه او پر وخت همغږي ترسره شوې ده.
- د پوهنې وزارت د منسوبینو لپاره د کورنیو چارو محترم وزارت څخه ۱ ټوک پاسپورټ غوښتل شوی دی.
- د پوهنې وزارت له مقاماتو سره د داخلي او بهرنیو مېلمنو ۱۰ رسمي لیدنې تنظیم شوي او په اړه یې د اړنده ادارو له استازو سره لازمه همغږي ترسره شویده.
- د ولایتونو د پوهنې ریاستونو څخه ۱۹,۸۵۹ قِطعې مکتوبونه ترلاسه شوي او د وروستیو کړنو لپاره اړوندو ادارو ته استول شوي دي.
- ۲۳,۰۹۸ قِطعې مکتوبونه د ولایتونو پوهنې ریاستونو ته د وروستیو کړنو په موخه استول شوي دي.
- د ولایتونو د پوهنې ریاستونو څخه راستول شوي ۲,۸۹۹ قطعې سندونو کره کتنه ترسره شوي او د نورو پړاوونو د بشپړولو او کړنو په موخه اړونده ادارو ته استول شوي دي.
- د مرکزي ریاستونو ۳,۱۹۷ قطعې سندونه د کره کتنې وروسته اړونده ادارو ته استول شوي دي.
- د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ٦,٣٣٨ قطعې وړاندیزونه د منظورۍ او حکم اخیستلو په موخه د پوهنې وزارت محترم مقام ته وړاندې شوي دي.
- د ۴ تنه ولایتي رئیسانو او د هغوی د ساتونکو د سفر سندونه د اداري پړاوونو د بشپړولو وروسته مرکز ته تنظیم شوي دي. همدارنگه د مرکزي ریاستونو د ۵۱ تنو کارکوونکو سفرونه، د سفرونو د تنظیم کمېټې له تایید وروسته ترسره شوي او کارکوونکي د خپلو رسمي دندو د ترسره کولو لپاره بېلابېلو ولایتونو ته تللي دي.
- د پاکستان، ایران، اندونیزیا او هند ښوونیز او روزنیز نظامونه د زده کوونکي، ښوونکي، ښوونیز نصاب، ښوونیزې ارزونې، ښوونیز چاپېریال، د ټولنې او والدینو ګډون، مدیریت، اسلامي زده‌کړو، د لویانو زده‌کړو، علمي څېړنو، ساینس، قوانینو، پلان او پالیسي او همدارنگه په ټولنیز، رواني او اقتصادي برخو کې مطالعه شوې دي

- ۱۰سرليکه بېلابېل لاربنودونه، د علمي شورای رياست له لوري څېړل شوي، نهايي او تأييد شوي او د منظورۍ لپاره د وزارت محترم مقام ته لېږل شوي دي.

## له پلان څخه بهر فعاليتونه او لاسته راوړنې (د برنامو په کچه)

### ۱. اسلامي زده کړې

- د اسلامي زده کړو د معينيت له لوري، د کابل ښار د پنځمې ناحيې اړوند د «خلفای راشدين» په نوم يو باب دارالحفاظ لغوه شوی دی.
- د اسلامي زده کړو د معينيت له لوري، د هېواد په ۱۳ ولايتونو کې د ۴۲ بستونو تعديل ترسره شوی دی.
- د اسلامي زده کړو د معينيت له لوري، د هېواد په ۱۱ ولايتونو کې ۱۲ بابه مدرسې د اړتيا له مخې له يو ځای څخه بل ځای ته لېږدول شوې دي.
- د اسلامي زده کړو د معينيت له لوري، د هېواد په ٦ ولايتونو کې ١٦ بستونه تنزيل شوي دي.
- د اسلامي زده کړو د معينيت له لوري، د هېواد په ۳ ولايتونو(غزني، خوست او بغلان) کې د ۳ بابه مدرسو نومونه اصلاح شوې دي.
- د دولسم ټولګي د ثانوي او څوارلسم ټولګي د فوق‌الثانوي ۷۷۳ قطعې ښوونيز سندونه (کشف‌الدرجات) د قانونی پړاوونو د تېرېدو وروسته غوښتونکو ته وېشل شوي او ياد سندونه په سيستم کې ثبت شوې دي.

### ۲. ښوونه او رزونه

- د مسلکي او ورې اشخاصو د ګومارنې په موخه، د ښوونې او روزنې برنامې د ۳ او ۴ اداري بستونو له پاره له ١٦٧ نوماندانو څخه آزموينه اخيستل شويده، چې په پايله کې ۱۰۷ تنه نوماندان بريالي شويدي.
- د بهرنيو ژبو د اصطلاحاتو سند چې د علمي شورای رياست له خوا د نظرونو او وړانديزونو په موخه شريک شوی وو، د ټاکل شوې کميټې له لوري کتل شوی او د سمون په موخه يې اړين نظرونه او وړانديزونه له اړونده اداري سره شريک شويدي.
- د ليک لوست زده کړې او د خصوصي زده کړو د رياستونو د فعاليتونو او کړنو څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه، د څارنې فورمې چمتو او پر بنسټ يې څارنه ترسره شويده.
- په ښوونځيو کې د درسي او اداري چارو څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه، د کابل ښار په ١٦ ښوونيزو حوزو کې د ۳۲۸ بابه ښونځيو څخه د ښوونې او روزنې معينيت تر چتر لاندې رياستونو د غړو څخه د ترکيبي ټيمونو او د نصاب او مسلکي پراختيا عمومي رياست د مديريت او رهبرۍ لاندې څارنه ترسره شويده، همدارنګه د تدريسي او اداري چارو د کيفيت د ښه والي په هکله اړونده مسؤولينو ته لازمې لارښوونې او مشورې ورکول شويدي.
- د زده کوونکو د روغتيايي حالت څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه، د کابل ښار او کابل ولايت په کچه د ٦٩٠ نويو شامل شوو زده کوونکو روغتيايي ارزونه په اړونده کلينيکونو کې ترسره شويده.

- د کندهار، کندز، هرات، غزني، دايکندي، نيمروز، بلخ، ارزګان، کابل او کابل ښار اړوند د روږدو کسانو مرکزونو ته ۸,۰۰۰ ټوکه کتابونه وېشل شوي دي.
- د لیک لوست زده کړې د کورسونو ۱۲ تنو ښوونکو ته د مرکز په کچه د تدریس د میتودونو په اړه ۲ ورځینی سیمینار دایر شویدی. همدارنګه د هوکړه لیکونو پر بنسټ، روزل شوي ښوونکي د زندانونو چارو د سمون اداري، د ماليې وزارت، امربالمعروف، نهی عن المنکر او د شکایتونو اوریدلو او د ترانسپورټ وزارتونو ته د درس ورکولو په موخه ورپیژندل شوي دي.
- د لیک لوست زده کړې۱۲۰ ورځني کتابونه د هلمند، غزني او دایکندي ولايتونو د لیک لوست زده کړې استازو ته د هغوی د وندې سره سم وېشل شوي دي.

## ۳. د کیفیت تضمین

- د پوهنې وزارت د کړنو او لاسته راوړنو ربعوار راپور چمتو شوی او د نشراتو او عامه اړیکو ریاست سره شریک شوی دی.
- پښتون مېشتو ولایتونو لپاره د میاشتني راپور ورکولو فارمټ، چې مخکې په دري ژبه هم چمتو شوی وو، ترتیب او اړونده ولایتونو سره شریک شوی دی.

## ۴. مالي او اداري

- د وزارت د ټولو مرکزي دفترونو او اړوندو ریاستونو له پاکوالي څخه په دوامداره توګه څارنه او کنټرول ترسره شوی دی.
- د وزارت د مرکزي ودانی او اړوندو رياستونو د فاضله اوبو څاه ګانې خالي شوې دي.
- د اړوندو ریاستونو تخنيکي چارې لکه د اوبو رسولو سیستم، برېښنا، ټیلیفون او نورو برخو ترمیم  له څنډ پرته ترسره شوی دی.
- د تدارکاتو رياست له لوري یو تن انجنیر د پوهنې وزارت د غوښتنو (طلباتو)، تامیناتو، تضمیناتو او تر فتحې وړاندې د معاشونو د تثبيت کمېټې غوندو ته معرفي شوی دی.
- د تدارکاتو رياست له لوري درې تنه انجنیران له ښار او کور جوړولو وزارت څخه پوهنې وزارت ته د ۳۳۳ ودانیزو پروژو د لېږد په موخه ګومارل  شوي دي.
- د ښځینه وو اړوندو څانګو څخه په جدي ډول کنټرول او څارنه شوې او ښځینه مراجعینو ته د رڼو خدمتونو د وړاندې کولو او آغېزمنې رسېدنې په موخه لازمې مشورې او لارښوونې ورکړل شوې دي.
- د  نصاب رياست اړوند د تخنیکی کارکوونکو (NTA) ۲۲ بستونه د آزادې سیالی له لارې اعلان ته سپارل شوي او د یادو بستونو د نوم لیکنې فورمې ترتیب شوې دي.
- د ۱۴۰۵ مالي کال لپاره د پراختیایي کارکوونکو (د قرارداد تمدید او نوي ګومارل شوي) د بودیجې نوملړ ترتیب او د بودیجوي تخصیص د ترلاسه کولو په موخه مالي او اداري رياست ته لېږل شوی دی.

- د ۷۹۱ تنو ښوونکو د تبدیلی او ۵۵۸ تنو د منفکی، د ٥٦۹ تنو استادانو د تبدیلی او ۹۵۰ تنو د منفکی، د ۷۴۹ تنو مامورینو د تبدیلی او ۹۲ تنو د منفکی او همدارنگه د ۵۸٦ تنو خدماتي کارکوونکو د تبدیلی او ۳۴۷ تنو د منفکی سندونه له اداري پړاوونو تېر شوي دي. دغه راز د ۱۷٦۰ تنو مجاهدینو د تصفیې فورمې د قدم د لوړوالي (ارتقاء) په موخه مطالعه، کتل شوي او قانوني پړاوونه یې بشپړ شوي دي.
- د ناروغی ٦٦ قطعې تصدیق پاڼې، د مکافاتو ۱۲ قطعې سندونه (تقدیرپاڼې او تحسین پاڼې) او د مراجعینو ۳۹ شکایتونه څېړل شوي، قانوني پړاوونه یې بشپړ او اجرا شوي دي. همدارنګه، ۵،۰۴۹ قطعو سندونو د سوابقو تذکر، ۱،۵۰٦ سوانحو خلص، ۲۸ ټوکه د سوانحو سواد او د ذاتي چارو ۵،۸۲۹ قطعې مکتوبونه د کارکوونکو په سوانحو کې معامله او ثبت شوي دي.
- د پوهنې وزارت د مرکزي ریاستونو د تدریسي، اداري او خدماتي کارکوونکو شخصي/بایوګرافیک معلوماتو پرتله د (CPAMIS) سیستم او د معاشونو له سیستم سره ترسره شویده.
- د مقام د دفتر عمومي ریاست، د ښوونې او روزنې، اسلامي زده کړو، د کیفیت د تضمین او مالي او اداري محترمو معینیتونو ۲۴ تنه کارکوونکي د «څارنې او مراقبت، د غونډو مدیریت او مسؤولیت منلو» تر سرلیکونو لاندې په ښوونیزو پروګرامونو کې د ګډون په موخه د ملکي خدمتونو انسټیټیوټ ته ورپیژندل شوي دي.
- د پوهنې وزارت ۲ تنه کارکوونکي د ماسترۍ په برخه کې د زده کړو د دوام په موخه، د پولی تخنیک امارتي پوهنتون ته ورپیژندل شوي دي.
- د پوهنې وزارت په مرکزي ریاستونو کې د ۲۰ تنو نویو ګومارل شویو کارکوونکو د دندې د اشغال مکتوبونه ترتیب او اړوندو ریاستونو ته لېږل شوي دي.

## ۵. د وزارت مقام

- د پوهنې وزارت له اړونده ادارو څخه کړنلارې، لایحې، قوانین او فورمې د چارو اداري محترم ریاست ته د لېږد په موخه راټولې شوي دي.
- د امام ابویوسف (رح) نمونوي لیسې د دفترونو لپاره لارښوونکې لوحې طرحه او چمتو شوې دي.
- د وزارت د خبري غونډو او مناسبتونو په اړه ۳ ویډیویي راپورونه او بیانیې چمتو شوې دي.
- د تقنیني سندونو او لارښودونو د آنلاین سیستم د معرفي کولو په اړه د مرکزي ادارو۴۰ تنو تخنیکي کارکوونکو لپاره یو ورځنی سیمینار دایر شوی دی.
- د کابل ښار د پوهنې ریاست د ١٦ ګونو ښوونیزو حوزو په کچه، د خصوصي ښوونځیو او خصوصي ښوونیزو کورسونو په ګډون، په ۸۰ مشهورو ښوونیزو مرکزونو کې د دعوت او ارشاد ریاست او نورو اړوندو ادارو په همغږۍ د اصلاحي او روزنیزو سیمینارونو لړۍ تنظیم شوې ده. د دغو سیمینارونو موخه د زده‌کوونکو د فکري، اخلاقي او اسلامي روزنې پیاوړتیا او د ښوونیز چاپېریال د کیفیت لوړول دي.

- د دعوت او ارشاد ریاست د یوې منظمې طرحې له مخې، د دوو جلا ټیمونو په واسطه هره ورځ د کابل ولایت د پوهنې ریاست او د کابل ښار د پوهنې ریاست اړوند خصوصي ښوونځیو، امارتي ښوونځیو او ښوونیزو کورسونو څخه څارنه ترسره کوي. د څارنې په ترڅ کې د اړتیا په صورت کې مبلغین ورپېژندل کېږي او همدارنگه د استادانو او زده‌کوونکو د فکري او ذهني ودې په موخه لازمې سپارښتنې او لارښوونې وراندې کېږي.
- د ۲۶ بابه امارتي او خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو کورسونو څخه څارنه ترسره شوې، چې په ترڅ کې یې د استادانو او زده‌کوونکو د صورت او سیرت وضعیت ارزونه، د مبلغینو ټاکنه او د دعوت او ارشاد د نصاب د تدریس بهیر څارل شوی دی.
- د سواد زده‌کړې د کورسونو د کړنلارې مسوده د سواد زده‌کړې ریاست په همغږۍ ترتیب شوې او د قانوني او اداري پړاوونو د بشپړولو په موخه د علمي شورا محترم ریاست ته لېږل شوې ده.
- د مقام د هدایت پربنسټ، د کابل ښار د پوهنې ریاست له محترم رئیس او د ولایتونو د پوهنې له رئیسانو سره د کلنۍ ارزونې په موخه لازمه لارښوونه او مرسته ترسره شویده .
- د بهرنیو اړیکو او تمویلوونکو ریاست د مسلکي غړو او د پوهنې وزارت د نورو اړوندو ادارو د استازو په گډون د تفاهم‌نامو د نهایي کولو کمېټه جوړه شویده.
- د هغو استادانو د بستونو د گومارنې او لېږد په موخه چې د پاکستان له کلیوالي مدرسو څخه تنقیص شوي دي د بهرنیو اړیکو او تمویلوونکو ریاست له لورې یو لارښود ترتیب شوی او د نهایي کولو او د وزارت له محترم مقام څخه د منظورۍ اخیستلو په موخه د علمي شورا محترم ریاست ته استول شوی دی.

## د تطبیقي ستونزو لنډیز

- د بودیجې د تصویب او تخصیص د ځنډ له امله، پلان شوي فعالیتونه پر ټاکلي وخت نه تطبیق کېږي.
- په هغو سیمو کې چې د زده کړې څخه بې برخې ماشومان شتون لري د ښوونځیو د تأسیس او ارتقاء له پاره د ښوونکو کم والی.
- د اټکل شویو اړتیاوو او پلان شویو فعالیتونو په پرتله د ځانگړې شوې بودیجې کم والی.
- د تېرو کلونو د ودانیزو نیمه کاره پروژو د پاتې چارو د بشپړولو له پاره د بودیجې کم والی.
- د ښوونکو او علماو کرامو د ښار گوټو له پاره د ځمکې د برابرولو په هکله د ښوونځیو او املاکو د ساتنې او څارنې ریاست استول شویو مکتوبونو ته د زراعت محترم وزارت له خوا د ځواب نه ویل.
- د اسلامي زده کړو، سواد زده کړو او کلیوالي مدرسو د درسي کتابونو د چاپ له پاره د بودیجې د تخصیص نشتون.
- د درسي کتابونو د چاپ له پاره د اړتیا وړ بودیجه نده ځانگړې شوې.
- د انټرنټي شبکو، برېښنا او برېښنایي اړیکو د وسایلو له پلوه د زابل، ارزگان، نورستان، غور او بادغیس ولایتونو د پوهنې ریاستونه د ستونزو سره مخ دي چې له امله یې، ځینې وخت د مراسلاتو په برخه کې د مرکز سره اړیکې نه ټینگیږي.

- په پښتو ژبه د عملياتي پلان په جوړولو او د منظور شوي پلان  په شريکولو کې ځنډ د دې لامل ګرځېدلی چې پلان پرټاکلي وخت تطبيق نشي او همدارنګه د راپور ورکولو بهير يې له خنډ او ځنډ سره مخ کړی دی.
- د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی له لوري د پوهنې قانون د نه توشيح کېدو له امله، د تقنيني سندونو تدقيق، شرعي تخريج او د طی مراحلو اړوند نورې چارې له ځنډ سره مخ دي.
- د کارکوونکو لپاره روزنيز سمينارونه د امکاناتو د نشتوالي له امله نه دي عملي شوي.

## حل لارې او وړانديزونه

- د پلان شويو فعاليتونو د تطبيق لپاره، وړانديز کېږي تر څو د اړتيا وړ بوديجه تخصيص او پرټاکلي وخت د اجرايي مسؤولينو په واک کې ورکړل شي، تر څو پلان شوي فعاليتونه بې له ځنډه او په غوره او آغېزمنه توګه تطبيق شي.
- د ښوونځيو د جوړولو او لوړولو په موخه دې په تشکيل کې د ښوونکو بستونه زيات او ځای پر ځای شي.
- وړانديز کېږي چې د عملياتي پلان د اړتياوو د بشپړې ارزونې پربنسټ د اړتيا وړ بوديجه ځانګړې شي او هغو فعاليتونو ته لومړيتوب ورکړل شي چې د زده کوونکو ډېر شمېر تر پوښښ لاندې لري.
- وړانديز کېږي چې اړونده چارواکي د تېرو کلونو د نيمګړو ساختماني پروژو د پاتې کارونو بشپړولو لپاره اړينه بوديجه ځانګړې کړي او د همکارو مؤسسو تخنيکي او مالي ملاتړ را جلب کړي.
- وړانديز کېږي چې د ښوونکو د ښارګوټي د جوړولو لپاره د ځمکې د برابرولو موضوع د پوهنې وزارت، اړونده معينيت او يا هم د عملياتي پلان د تعقيب تخنيکي کميټې له لوري د کرنې او مالدارۍ وزارت سره تعقيب شي.
- د درسي کتابونو د اخيستلو، چاپ او وېش لپاره دې د اړتيا وړ بوديجه په پام کې ونيول شي.
- د زابل، ارزګان، نورستان، غور او بادغيس ولايتونو ته دې د اړتيا سره سم برېښنا، انټرنېټ او ټول برېښنايي وسايل او آسانتياوې ژر تر ژره چمتو کړل شي.
- وړانديز کېږي چې د عملياتي پلان منظور شوې پښتو نسخه دې پر وخت چمتو شي او د مالي کال په پيل کې دې د مرکز او ولايتونو پهکچه د  اجرايوي مسؤولينو په واک کې ورکړل شي.
- وړانديز کېږي چې د پوهنې قانون د منظورۍ موضوع دې د صلاحيت لرونکو مراجعو له لارې تعقيب شي، تر څو د پوهنې قانون له نافذېدو وروسته د تقنيني سندونو تدقيق، شرعي تخريج او د طی کولو بهير پرټاکلی وخت ترسره شي.
- د کارکوونکو د ظرفيت لوړولو روزنيزو برنامو د تطبيق له پاره دې د اړتيا وړ بوديجه ځانګړې شي.

# مالي راپور

## د بودیجې تخصیص او لګښت

### الف: عادی بودیجه:

د ۱۴۰۵ کال له پاره د ښوونې او روزنې، اسلامي زده کړو، د کیفیت د تضمین او مالی او اداري برنامو په کچه په ټولیزه توګه د پوهنې وزارت له پاره ۳٦,٦۱۳,۱۱۹,۸۷٤ افغانی عادي بودیجه په پام کې نیول شوېده، چې د روان مالي کال د لومړی ربعې تر پای ۹,۱۰۵,۹٦٥,۳٤۷ افغانی په مصرف رسېدلې دي.

### ب: پراختیایي بودیجه:

د ۱۴۰۵کال په پیل کې د پوهنې وزارت پراختیایي بودیجه ۵۷۴۱۱٦٦۱۰ افغانی ټاکل شوې وه، چې د روان مالي کال د لومړۍ ربعې تر پای ۲۰۵۰۱۸۱۹ افغانی مصرف شوې دي.

| د بودیجې ډول | تخصیص | لګښت | د لګښت سلنه | پاتې بېلانس | د پاتې بېلانس سلنه |
|---|---|---|---|---|---|
| عادي | ۳٦,٦۱۳,۱۱۹,۸۷٤ | ۹,۱۰۵,۹٦٥,۳٤۷ | ۲٥٪ | ۲۷,٥۰۷,۱٥٤,٥۲۷ | ۷٥٪ |
| پراختیایي | ٥۷٤,۱۱٦,٦۱۰ | ۲۰,٥۰۱,۸۱۹ | ٤٪ | ٥٥۳,٦۱٤,۷۹۱ | ۹٦٪ |